# کامیاب دی که ریښتینی وي

له طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: د نجد له خلکو څخه يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په داسې حال کې راغی چې سر يې ببر او ويښتان يې ګډوډ وو او موږ د هغه د غږ بونګاری اوريده، خو موږ نه پوهېدو چې څه وايي تر دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته نږدې شو ، نو ګورو چې هغه د اسلام په اړه پوښتنه کوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې: «په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه» نو هغه وويل: آيا نور کارونه هم رابانديې شته؟ هغه وفرمايل: «نه، خو که نفلي لمونځونه وکړې، او د رمضان د مياشتې روژه»، هغه وويل چې آيا لدې پرته نور څه رابانديې شته؟ هغه وفرمايل: «نه، مګر دا چې نفلي روژې ونيسې» او رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د زکات يادونه وکړه، نو هغه وويل: آيا لدې پرته نور څه رابانديې شته؟ هغه وفرمايل: «نه، مګر دا چې نفلي خيراتونه ورکړې»، وايي: سړی روان شو او (له ځان سره يې) ويل چې: قسم په الله چې لدې به يې نه زيات کړم او نه به يې کم کړم، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «کامیاب دی که ریښتینی وي.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

د نجد له خلکو څخه يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، په داسې حال کې چې ويښتان يې ګډوډ وو ، غږ يې لوړ و، په خبرو يې څوک نه پوهېده، تر دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته نږدې شو. نو د اسلام د فرائضو په اړه يې پوښتنه وکړه؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمانځه پيل وکړ او پوه يې کړ چې الله تعالی پرې په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض کړي دي. ويې ويل: آيا له دې پنځو لمونځونو پرته بل کوم لمونځ کول راباندې شته؟ ويې فرمايل: نه، پرته له دې چې د نفل په توګه لمونځ ادا کړې. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: او له هغه څه نه چې الله تعالی دربانديې فرض کړي دي د رمضان د مياشتې روژه نيول دي. سړي وويل: آيا د رمضان له روژې پرته رابانديې بله روژه نيول شته؟ هغه وويل: نه، پرته له دې چې په خپله خوښه روژه ونيسې. بيا ورته رسول الله صلی الله عليه وسلم د زکات يادونه وکړه. نو سړي وويل: آيا له فرض زکات نه پرته رابانديې نورې کومې صدقې شته؟ هغه وفرمايل: نه، مګر دا چې نفلي وکړې. کله چې سړي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دا فرايض واوريدل، روان شو او په الله تعالی يې سوګند وکړ چې پر همدې به پابند پاتې کيږي؛ نه به ترې څه کموي او نه به يې زياتوي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم يې د دې خبرې پسې وفرمايل: که چېرته دا سړی په خپل سوګند کې ريښتونی و، نو له کاميابانو څخه به وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3700